# رنځور خامار

# ناول

***لیکوال:سید ادریس عادل***

***کیسه:انتخاب اوژوند یی***

# ډالۍ!

# ګران ملګري مسیح الله عظیمی ته،

# او حکمت الله صدیقی ته،

## پیل

شروع کوم په نامه دهغه ذات چی ډیر مهربان اوبښونکی دی.
دا چی په کتاب کی دلیکوال خبری ډیری بور کوونکی هم وی خو که بیخی وی هم نه بیا هم لوستونکی دکتاب په سور او بور نه پوهیږی.

دا چی ما د ډیر فکر کولو نه وروسته وغوښتل چی یوه افسانوي قیصه ولیکم چی دیو حقیقت په بڼه وي.تر څو داسی یوه قیصه وی چی ډیر یی غواړي.

دغسی قیصی ولولی، زه انشاالله پوره مطین چی تاسی به دغه کتاب ته منتظر وی،دغه کتاب چی ستاسو په لاس کی دی،ددی کتاب موضوع دنړی ختمیدل دي،دا کتاب ما دخپلو هغو اندیښنو په باب لیکلی چی،پوره پنځه کاله دخپلو پښتنو په ځواب پسی وګرځیدم!خو بغیر دمنفی خبرو نه می مثبته خبره وانه وریده،وس می دخپل ژوند په رڼا کی دهغی پښتنی جواب پیدا کړی نو دهمدی لامله یی تاسی ته هم د ناول په ژبه وړاندی کووم.

ناول راسره پوره ولولئ اوخوند ورنه واخلئ.

دنورو ښکلو کتابونو دلوستلو لپاره لاندی دواټساپ ګروپ درسره جوین کړئ.

khttps://chat.whatsapp.com/CBNNQba1wxULyPJU7up9

ٌٌٌ

انتخاب شپږ کلن هلک وو
په ټول ژوند کی یی صرف
یونیکه اویوه موردرلود.
نیکه یی یحیی خان نومیده
په ټول کلی کی خه د نامی جامی سړی وو
چا یی مقابله نشوه کولای په ژوند کی یی
یوازنی دخوشحالی اثره انتخاب وو.
چی ددی لمسی و.
اکثر وخت کی به یحیی خان خپل لمسی
انتخاب ته دپخوانیو وختونو قیصی کولی.
یوه ورځ انتخاب ته خپل نیکه
پخوانۍ دامان الله خان او دحبیب الله
خان دوخت قیصی کولی چی
امان الله خان زموږامیر وو ډیر خه سړی وو
امان الله خان واقیت کی هم
خه سړی وو خوپلار حبیب الله خان یی
ډیرخاین انسان وو.
صرف به په تخت ناست وو
اوعیاشیانو ته یی زور ورکړی وو.
امان الله خان خو پښتانه یوځای ته رسول

خو داپښتانه دی الله پوه کړي
دا څه کوی زموږ دجومات دامام پلار هم ورسره
هم نظری وو.
او همدوی دحبیب الله خان په وخت کی
هیڅ غبرګون له ځانه نه خود.
یحیی خان په همدی قیصو کی
په خوند خوند لګیا وو چی
چی په دا وخت کی رقم رقم طیاری راغلی په
کلی او په شاوخوا الاکو باندی یی شنی
شعاوی خوری کړی.
ټول دکلی خلک ورخطا شو
چی پدا مهال کی هری خواته شنی لوخړی
له ځمکی څخه پورته شوی.
او یوځل بیا یی په
کلی بمبار وکړ.
یحیی خان خپل لمسي ته وویل چی ته کینه
زه په منډه راځم.
یحیی خان ترکوره ووت .
خوترسهاره کور ته رانغی.
لمسي انتخاب یی په سخت ویر خپله شپه سبا کړه
سهار یی لمسی ته مور وویل:

**چی لاړ شی خپل ماما پسی**
**اوټوله کیسه ورته بیان کړي.**
**همداسی یی وکړل او لاړ د ماما کره**
**او ټول جریان یی ورته تیر کړ**
**ماما یی هم په زړه کی ټکان وخوړ**
**او سیده لاړ او دمهلی نور**
**مشران یی هم ځان سره**
**کړل .**
**تر څو یحیی خان پیدا کړي**
**ټول دیحیی خان په**
**لټه کی شول.**
**تر ټولو نه اول لاړل دکلی روغتون ته**
**روغتون کی هری سپین سری ژړل**
**اوخیراوی یی دی شنو**
**سترګو امریکایانو ته کولی.**
**بل ډول ماهول جوړ وو.**
**هری خوا ته غم او خفګان پروت وو**
**ویر او ژړا ګانی وی.**
**دانتخاب ماما دیو کس په اوږه لاس کیښود.**
**چی دی کس مخ راواړوو**
**نو دمخی سره انتخاب وپیژانده**

داکس دانتخاب نیکه یحیی خان وو
دانتخاب د نیکه سترګی ډکی وی
سخت درد پکی ښکاره کیدو
دانتخاب ماما نوشیر چی یحیی خان ولید
ورتر غاړی ووت.
ورته یی وویل چی ته دلته راتلی
نو کم ازکم موږ خپل
کلیوال خو بدی خبر کړی وای کنه.
یحیی خان ورته وویل زما ملګری په حق
رسیدلی وو
نو ځکه زه ورختا شوم او بیګا دشپی دشپی
می دلته ځان راورساوه...

ّّّ◌◌◌

دیو څه وخت تیریدلو وروسته انتخاب رالوی شو
عمر یی پوره اتلس کلنی ته ورسید.
یو خکلی ځوان تری جوړ شو نیکه یحیی خان یی هم
ډیر په بد حال شوی وو.
هره ورځ به یی دزر افغانیو والا ستن
وهله.
انتخاب هم خه وو کار و بار یی کولو
ده به دورځی خپله دنده ترسره کوله چی ماین پاکی
یی دنده وه.
که څه هم پدی دنده کی معاشات ډیر وو
خو ده به ټول معاشات دنیکه
په ورځنیو پیچکاریو لګول
او دکور دخرص لپاره هیڅ
هم ورسره نه پاتی کیدل.
خو دی بیا هم خپل ضمیر ته سرټیټی نه وو.
ولی چی دخپل هغه نیکه درملنه
یی کوله چی دپلار نه ورته
کم نه وو.
له یو څو ورځو سختیو وروسته
یی نیکه یحیی خان هم

خپل روح حق ته وسپاره.
انتخاب ډېر خفه وو ژوند
یی بیخی تریخ شوی وو.
چی دانتخاب مور تور پیکی
هیڅکله هم دانتخاب خفګان نشو
لیدلی هماغه وو، چی تورپیکی لاړه او دخپل ورور
نوشیر نه یی حیا دانتخاب لپاره وغوښته.
حیا دنوشیر لور وه
دانتخاب مور تور پیکۍ مخکی هم په بار
بار لیدلی او خوخه سوی یی وه
دانتخاب ماما نوشیر ورته دمخی سره
ها وکړل ځکه چی که خوریی کی یی
کوم عیب وای نو دده ماسوا
نور سوک پری نه پوهیده
نو ځکه خو دهغه دهر عیب
اواندازی نه یی خبر وو ځکه اکثر ماما ګان دخپلو
خوریانو سره اکثر
ډیری ازادی اړیکی لري
دی هم همداسی وو.
او حیا یی سیده د انتخاب په نوم کړه.
حیا او انتخاب دواړه دخوشحالی

**نه په جامو کی نه ځاییدل**
**خوانتخاب زړه به کله ناکله**
**یوی کلیمی خوړلو**
**او هغه کلیمه داوه چی کاش**
**وس می بابا هم راسره وایی.!**
**دانتخاب او حیا واده ډیر په**
**خه انداز سره تیر شو.**
**دواړو په ګډه دخپل ژوند**
**خوشحالي سره لمانځله او**
**وخت هم خپل اتمام دزنګ**
**خطر په ځیر ټنګولو.**

ّّّ

پـه دی موده کی دانختاب اوښکلا یوزوی
وشو او هغه هم دری کلن شو.
نوم یی پری افتخار کیښود..

دامهال پـه نړی کی دوه لوی سوپر
طاقتونـه ورواودی لویو سوپر طاقتونو
دجنګ اماده ګیانی نیولی
دنړی لوی سوپر طاقتونـه روسیه
او امریکا وو ددوی خواو شاتـه نورو
هیوادونوهم برخه اخیستـه
ټولـه نړئ پـه دوو لویو برخو وویشل
شوه چی دنړی ټولو هیوادونو ځان
پر یوی خوا پوری تړلی وو
یوازی افغانستان وو چی لـه خپلی خوانـه یی
بی طرفی اعلان کړی وه
نور مشهور هیوادونـه لکه
امریکا فرانسه المان او
بریتانیا اوډیری نور هیوادونـه
د امریکا پـه طرف وو ولی چی
ټولی نړئ جنګ کی ونډه اخیستی وه

**اود روسیه په طرف همدغه ختیځ هیوادونه وو**

**لکه پاکستان هند چین او ایران**

**او همداسی نور ډیری هیوادونه**

**صرف افغانانو پکی بی طرفی اعلان کړی وه**

**نوری ټولی نړۍ جنګ ته لمنی رابډ وهلی وی.**

**هغه شاعر ریشتیا وایی چی**

**داڅوک چی جنګ غواړي دجنګ له زوره ندی خبر.**

**دوی هم دوه ډلی شوی وو**

**او دحرث سرو لمبو راخیستی وو.**

**تر څو نړۍ یوه**

**سوپر طاقت ته پاتی**

**شي.**

**جنګ پیل شو هری خواته**

**سری لمبی وی**

**او سری وینی بهیدی**

**یوه نیمه**

**سکروټه خو به یی**

**افغانستان ته هم رارسیده**

**یو وخت شو امریکایانو**

**سخت ظلم شروع کړ**

**هرکله چی په امریکا کی دامریکی ولسمشر**

**دزور زیاتی نه کار واخیست**

**اوپه امریکا کی یی دختیځ**

**هیوادونو په مسافرینو ظلمونه شروع کړل**

**او ظلمونه یی دحد نه واوړیدل**

**اوداسی ظلمونه به یی کول چی د سړوپه سرونو کی**

**به یی ورته میخونه ټک وهل.**

**اودښځو سره به یی هر ډول بد سلوک کاوه**

**او پدی مهاجرینو کی ډیری یی افغانان وو.**

**افغانانو چی دا حالت ولید سم دمخی یی**

**روسی ته لاس ورکړ.**

**افغانانو روسیی سره دهر ډول**

**سرتیرو مرسته وکړه**

**او روسیی هم همدغه**

**غوښتل ولی چی دپیسو سرتیری**

**هیڅکله هم دوفادرۍ جنګ**

**نکوی خو ددی دین سرتیری**

**اکثر یی د وفادارۍ جنګ**

**کوي.**

**روسانو دا عسکر دجاسوسانو په حیث د امریکی**

**خواته ولیګل.**

**چی په دا وخت کی دافغانانونه یو کس**

**دامریکی جاسوس و**

**او دروسیی دپاچا میرمن یي برمته کړه او دامریکی**

**دپرمختللی ټکنالوژی له کبله**

**د پاچا میرمن امریکی**

**ته ورسیده.**

**دامریکی ولسمشر د روسیی دولسمشر میرمن په**

**سختی بی رحمۍ ووژله.**

**او دویډیو په واسطه یی ټول دختیځ هیوادونه**

**په غوصه کړل.**

**دروسیی پاچا خپله غوصه قابو کولای نشوه**

**او داټوم د برابرولو حکم یی ورکړ**

**دا چی امریکی او بریتانیا**

**ته پته وه چی دا اټوم څومره**

**خطرناک دی نو دسولی**

**وړاندیز یی وکړ او دروسیی ولسمشر**

**بغیر له جوابه اټوم پری خطا کړ.**

**دا چی اټوم دیو څه وخت وروسته انسانان وژني**

**او شعاع ګانی انسان دمرګ تر پولو رسوي**

**نو دامریکی پاتی انسانان پوه شول**

**چی وس به دختیځ هیوادونه سوپر طاقت شی**

**نو هری خوانه یی اټومونه راخطا کړل پدی کی**

**دافغانستان په طرف تر ټولو نه کم زور وو ولی**

**چی افغانانو دامریکی سره هم مرسته کړی وه**

**هاغه دافغانستان عسکر چی**

**دروسیی دپاچا ښځه یی برمته کړی وه**

**هماغه خه امریکی ته وس هم په یاد وو**

**روسیه او ټوله نړی ورځ تر بلی تبا کیدل**

**دا چی افغانستان هم دنړۍ شعاع ګانو**

**له زور څخه خالي**

**نه و.**

**نوځکه ډیری خلک دمرګ**

**په خوب ویده شول**

**انتخاب چی ټول عمر یی دماین پاکۍ په**

**موسسه کی له امریکایانو سره کار کړی وو**

**دخپلی کورنۍ یو څه ساتنه وکړه**

**داکټرو شعاع ګانو ضد لباسونه له ده سره وو**

**خو په نوره نړۍ کی دی لباس هم کار نکاوه.**

**ولی چی هلته شعاع ګانی قوی استعمال شوی وی**

**انتخاب خپل ټول کلی لپاره**

**دشعاع ګانو ضد لباسونه ورسول**

**خونور ورسره نه وو.**

**شعاع ګانی ورځ تر بلی قوی کیدل**

او حتی تر دی چی بوډا ګان او ماشومان خو به یی
سره دلباسه هم وړل.
ډیر دپاښنه عمر لرونکو خلکو هم
خپل ژوند له لاسه ورکړ.
حتی تر دی چی دانتخاب ځوی افتخار هم
دسخت رنځ لامله ومړ انتخاب چی
نوی نوی یی داولاد مینه
لیدلی وه.
هغه هم ورنه خدای واخیست
حیا چی هم دویر په سلګو کی ډوبه
پرته وه انتخاب ته یی هم زړه خوړ
او خپل ځانته هم
دانتخاب مور تور پیکی چی لاتر اوسه ژوندی وه
ددومره پیخو له لیدلو وروسته
یی ده یری لامله چی هڅی نه مرګ یی
یوسی
مړه شوه.
یو څو ورځی وروسته دحیا پلار
او دهغوی ټوله کورنی
هم ختمه شوه.
حیا چی د غم په سمندرونو کی یی

چپی وهلیی بیخی
وچه شوه
مخ کی یی هډوکي راووتل
لکه بوډۍ ښځه
په کټ کی پرته وه
انتخاب یی سرته ناست وو
او په ډکو سترګو یی حیا ته کتل
حیا خپل پړونی راواخیست
او دانتخاب اوښکی یی ورپاکی
انتخاب ورته په ډکو سترګو او بندیدونکو
خبرو کی وویل:
اول می بابا وو دژوند خوشحالۍ وه هیڅکله یی
هم غم ته نه یم پریخی.
دهر غم نه وروسته به یی ضرور یوه خوشحالي راکوله
کله چی می بابا وفات شو.
زما دخوشحاله کولو لوی لامل می مور شوه
ستا سره دواده موقع یی راته برابره کړه
تاسره په وسیدو می دهیچا کمی هم
احساس نکړ مور می هم وفات شوه
تا راته دزړه تسلي راکړه
زوی می وفات شو ته می بیرته دخوشحالۍ وسیله وی

ماما می هم وفات شو.
هیڅ کمی می محسوس نکړ
خو که ته رانه لاړی قسم په خدای
چی ډیر کمی به محسوس کړم
حیا په ډکو سترګو ورته وکتل
او په سخته ژبه یی ورته وویل په ځان پام کوه او هیڅکله هم ماته ونه منی
که چیرته تا ماته ومنله ما هیڅکله هم نه یی ببښلی.
په رډو سترګو یی انتخاب ته وکتل او سترګی یی
هماغسی دانتخاب لوری ته پاتی شوی.
او خپل روح یی حق ته وسپاره...
انا لله وانا الیه راجعون
انتخاب نه د خپل رنځ او درد سره سره ورنه
رنځور خامار جوړ شو.
خو زه خیر د حیا خبره ورته په یاد وه
او دماتی منلو هیڅ فکر یی ذهن ته نه ودریدلو.
انتخاب دډیرو رنځونو د لیدو وروسته هم خپله خواری کوله
او دټولو خلکو لپاره یی فکر کولو
په دوه جمعو کی ټوله نړۍ
ختمه شوه اکثر خلک دنورو هیوادونو نه
افغانستان ته هم راغلل بیا هم ژوندی پاتی نشول

دانتخاب دپوهنتون ددوری صنفیان چی دوی ټول دکیمیا څخه فارغ شوی
وو

دانتخاب سره یی په دی حادثه کی
پوره پوره همکاري وکړه
او یو څه داسی اسباب یی جوړ کړل چی
د ټولو شعاعو ختمیدونکی وو او
انسانانو ورنه دلباس ګټه پورته کوله
خو دی لباس هم پوره څلور ویشت
ساعته کار کاوه او ددی نه پس نور
ختمیدو.
ددی نه هغه بل لباس هم خه وو
کوم چی انتخاب سره اول نه وو
خو ددی لباس ځانګړتیا داوه چی
دی لباس په هر ډول شعاعو کی څلرویشت
ساعته کار کاوه
خو دانتخاب لباس صرف دافغانستان لپآره مناسب
وو
انتخاب پلان جوړ کړ او دعملي کولو لپاره ټول خلک
چی څوک پاتی وو تابع شول
انتخاب د هیواد دمشرانو په همکارۍ
دټول هیواد او خلکو

مشر وټاکل شو.

انتخاب دټولو نه اول دداسی یوی کښتی دجوړولو

امر ورکړ.

چی څومره خلک پاتی دوی

ټول پکی ځای شي

بیا یی دهغه لباس د جوړولو امر ورکړ

کوم چی پوره څلرویشت

ساعته کار کوی او دټولو پاتی خلکو لپاره

پدی دواړو شیانو باندی کار

روان شو.

دغه دوه شیان دخلکو دزیادښت او

اتفاق له وجهی

پوره په یوه ورځ کی

جوړ سول.

انتخاب دیوی قوی الوتکی امر ورکړ.

تر څو دا کشتی تر خپل هدفه پوری یعنی سمندر پوری ورسوي

کښتی هم برابره سوه او الوتکه هم

کښتی یی دهند تر سمندر پوری ورسوله

دټولو خلکو لباسونه هم پوره په شپږو ورځو کی

طیار شو

وخت یی ځکه زیات ونیو

**چی دوی سره دومره مواد نه**

**وو چی لباس ورته جوړ کړي**

**نو ځکه یی دموادو په لټون باندی**

**وخت نیولو خو وروسته بیا ټول مواد**

**ورته دیوی زیرزمینی نه حاصل شو**

**نو ځکه یی ډیر وخت ونه نیو**

**هر څه اماده سول انتخاب دتګ امر وکړ**

**ټول خلک دروانیدو په حال کی شول**

**او ځانونو لپاره یی اړین توکی**

**او ضروری لباس راواخیستل**

**دا وخت په ټوله نړی کی دری سوه او اتیا نفر پاتی و**

**انتخاب سره د دری سوه او اتیا نفرو چی ډیری یی**

**پکی پخپله دانتخاب کلیوال وو**

**دهند سمند په طرف روان شول**

**هر کله چی حیا مړه کیده**

**نو انتخاب ته یی دخپل کټ لاندی یوه**

**ورقه ایښی وس چی انتخاب روان وو**

**نو دټول کور سامان یی یوځای ته جمه کول**

**چی دحیا هغه خط پکی پکی راووتو**

**انتخاب چی دحیا خط ولوست دسترګو نه یی**

اوښکو داره وکړه.
او خط یی خپلی سینی ته نژدی
او دزړه له درده او له خفګانه یی ډیر زیات وژړل
په هغه خط کی لیکل شوی وو چی:
زما دسترګو تور دنظر تار ته!
اسلام علیکم ګرانه زه پوهیږم چی داخط به تاته کابو
دډیر وخت نه وروسته په لاس درشي
زه په دی پوهیږم تا زما په مینه کی هیڅ کمی ندی کړی
او ماسره دی ډیر
په خوند او خوشحالۍ وخت تیر کړی
هر کله چی ستا مور ژوندۍ وه
ماته به یی ویل چی ته زما
دځوی دوهمه ساه یی
پام کوه که چیرته ته دهغی
نه خفه شوی نو هغه به د
سخت خفګان نه مړ شي
ما به یی زر په خوله لاس کیښود
او په اوښلنو سترګو به خپلی کوټی ته ننوتم
زه نن هم خبره یم چی ته بغیر له تسلی او مینی
ژوند نشي کولای نو ځکه ما دا
پریکړه کړی چی ته باید زما له مرګه وروسته ځانته

**یوه داسی دتسلئ ورکولو منبع پیدا کړی**

**چی ثاني یی په ژوند کی هم نه وی**

**او ښکلا یی باید دسپوږمئ سره ډغره ووهی.**

**انتخاب ځان سره په لوړ اواز وویل:قسم په**

**خدای هاغه دتسلی منبع او دسپوږمئ ښکلا ته وی**

**او ستا ثانی به بیا په ټوله نړئ کی هم پیدا نشي.**

**پای**

**بلی برخی ته په طمع اوسی ضرور یی درته نشرووم**

**دنورو ښکلو کتابونو لپاره د واټساپ لاندی**

**ګروپ کی ځان جوین کړی**

**لیکوال: سید ادریس عادل**

رنځور خامار



انتخاب ورته په ډکو سترګو او بنديدونکو

:خبرو کی وویل

اول می بابا وو دژوند خوشحالی وه هیڅکله یی

.هم غم ته نه یم پریخی

دهر غم نه وروسته به یی ضرور یوه خوشحالي راکوله

.کله چی می بابا وفات شو

زما دخوشحاله کولو لوی لامل می مور شوه

ستا سره دواده موقع یی راته برابره کړه

تاسره په وسیدو می دهیچا کمی هم

رنځور خامار

**احساس نکړ مور می هم وفات شوه**

**تا راته دزړه تسلي راکړه**

**زوی می وفات شو ته می بیرته دخوشحالۍ وسیله وی**

**ماما می هم وفات شو.**

**هیڅ کمی می محسوس نکړ**

**خو که ته رانه لاړی قسم په خدای**

**چی ډیر کمی به محسوس کړم**

**حیا په ډکو سترګو ورته وکتل**

**او په سخته ژبه یی ورته وویل په ځان پام کوه او هیڅکله هم**

**ماته ونه منی**

**که چیرته تا ماته ومنله ما هیڅکله هم نه یی ببښلی.**

**په رډو سترګو یی انتخاب ته وکتل او سترګی یی**

**هماغسی دانتخاب لوری ته پاتی شوی.**

**او خپل روح یی حق ته وسپاره...**

**انا لله وانا الیه راجعون**

ّّّ